MISFA
Microfinance Investment Support Facility for Afghanistan

MISFA Ltd
House #195, District 10
Esmat Muslim St., Shahr-e-Naw
Kabul, AFGHANISTAN

بریښنا لیک: info@misfa.org.af بریښنا پاڼه www.misfa.org.af

# نسبتي تحليل:

## د افغانستان د کوچنيو پورونو سکتورونه د هغو د سارو په وړاند په ګاونډيو هيوادونو کې، د سيمې او د نړۍ په کچه منځنی حد

لاندی د اغيزمنتيا او د ثبات د ځينو شاخصونو په کارولو سره د افغانستان د کوچنيو پورونو د سکتورونو د هغو د سارو په وړاندی په ګاونډيو هيوادونو کې د نسبت د څرنګوالي ته لنډه کتنه ده.

*(د افغانستان په هکله ارقام د ميسفا د کوچنيو پورونو د همکارو نهادونو د پرمختګ د مياشتنيو راپورونو څخه، او د نورو هيوادونو/سيمو ارقام د ميکس بازار څخه ترلاسه شوی دي).*

### لومړی شاخص: د کارکوونکو اغيزمنتيا




که څه هم په ظاهری بڼه کې، د افغانستان لپاره منځنی حد د نورو هيوادونو/سيمې څخه ټيټ ښکاري، بايد په ياد وساتو چې په افغانستان کې کاری حالات د سيمې نورو هيوادونو څخه، په شمول د پاکستان او هند چې د افغانستان تر ټولو لا نږدی ګاونډيان دی، ډير توپير لري. دا زياتره ددی لپاره ده چې په افغانستان کې د پورونو کارکوونکو شميره د غيرپورونو له کارکوونکو (زياتره هغه همکار کارکوونکي چې په امنيتی چارو بوخت دی لکه ساتونکې، موټر چلوونکې او داسی نور) څخه ټيټه ده. او د ناامن چاپريال په پام کې نيولو سره دغه مساله د درک وړ ده. په افغانستان کې د کوچنيو پورونو د نهادونو ترمنځ، د پورونو کارکوونکې، په ځانګړی توګه د پور ورکولو مامورين، د ټولو کارکوونکو **۵۰** پر سلو کې برخه جوړوی.

---

مسفا د محدودو مسؤليتونو يو شرکت دی چې په بشپړه توګه د افغانستان د ماليې وزارت پوری تړلی دي. مسفا په **۲۰۰۳** کال کې د يو چينل په بڼه رامنځته شو تر څو د افغانستان حکومت او نړيواله بسپنه ورکوونکې د کوچنيو پورونو سکتور د پياوړتيا لپاره او همدارنګه په کوچنيو او منځنيو تشبثاتو د ټيټو کچو پور ورکولو کې خپل تخنيکې مرستی او مالی وجوه، وړاندی کړي.

MISFA Ltd
House #195, District 10
Esmat Muslim St., Shahr-e-Naw
Kabul, AFGHANISTAN
برېښنا لیک: info@misfa.org.af برېښنا پاڼه www.misfa.org.af

په داسی حال کې چې په نورو هیوادونو (هند او بنګلا دیش) کې د پورونو کار کوونکې د ټولو کارکوونکو ۸۵-۸۰ پر سلو کې برخه جوړوی. برسیره پر دی، په افغانستان کې د نفوس شمیر د نورو سهیلی آسیا هیوادونو لکه هند ، بنګلا دیش، پاکستان په پرتله ټیټه ده. دغه کار د زیات شمیر ګاکونو د تر پوښښ لاندی نیولو لپاره د پور ورکولو د مامورینو ظرفیت کموی. هغوی باید ډیری اوږدی لاری ووهی چې په یوه اندازه پور اخستونکې تر پوښښ لاندی راولي.

## دوهم شاخص: د هر یو پور اخستونکې کلنیزه لږښتونه (په امریکایي ډالرو )




په افغانستان کې د هر پور اخستونکې کلنی لږښت ۱۲۲ امریکایی ډالره دي. چې په سیمه کې د منځنې حد په پرتله ډیر لوړ دي. څرګنده خبره ده، په یو هیواد کې چې بې ثباتی او شخړې روانې وی، د کار او فعالیت لږښتونه ډیر لوړ وي. د کارکوونکو تنخاوی او اداری لږښتونه په افغانستان کې د سیمې د نورو هیوادونو په پرتله لوړ دي. او په یوه ټاکلې سیمه کې د خلکو د شمیر له کبله، او ددی لپاره چې د پورورکولو مامورین باید لیری ځایونه تر پوښښ لاندی راولي، نو د هغوی لپاره ستونځمنه خبر ده چې په سیمه کې د خپلو د سارو په کچه اغیزمنه و اوسي. خو باید پدی پوه شو چې د دغه سکتور د پراختیا له زیاتوالی سره سم به دغه نسبت په ځانګړی توګه را ټیټ شي، څنګه چې سرانه او د کارکوونکو لږښتونه به په بشپړه توګه ثابت پاتی شي، او یا حداقل د پراختیا په تناسب به زیات نشي.

## دریم شاخص: د کار او فعالیت د لږښت نسبت، ٪

د کار او فعالیت د لږښت نسبت د کار او فعالیت د ټولیزه لږښتونو (د پرسونل، اداری او استهلاک ) منځنی حد د نه ورکړل شویو پورونو په تناسب، محاسبه کوی. د کاری او فعالیت د اغیزمنتیا د کچ کولو لپاره دغه تر ټولو لا زیات ستندرد نسبت دي. په افغانستان کې د کار او فعالیت د لږښت نسبت د سیمې د نورو هیوادونو او همدارنګه د نړیوال منځنی حد په پرتله ډیر لوړ دي. په زیاته کچه دغه په افغانستان کې د کار او فعالیت د لوړو لږښتونو له کبله ده. د بیلګی په توګه په افغانستان کې د پورورکولو د یو مدیر د منځنۍ کچې تنخا ۲۰۰ امریکایې ډالرو څخه تر ۵۰۰ امریکایې ډالرو پوری ده (چې ټول لږښتونه لکه ترانسپورت، د غرمی ډوډی، بخشش او داسی نور پکې شامل دی). د هند او بنګلادیش په پرتله چې د

---

مسفا د محدودو مسؤلیتونو یو شرکت دی چې په بشپړه توګه د افغانستان د مالیې وزارت پوری تړلی دي. مسفا په ۲۰۰۳ کال کې د یو چینل په بڼه رامنځته شو تر څو د افغانستان حکومت او نړیواله بسپنه ورکوونکې د کوچنیو پورونو سکتور د پیاوړتیا لپاره او همدارنګه په کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د ټیټو کچو پورورکولو کې خپل تخنیکې مرستی او مالی وجوه، وړاندی کړي.

MISFA Ltd
House #195, District 10
Esmat Muslim St., Shahr-e-Naw
Kabul, AFGHANISTAN

بريښنا ليک: info@misfa.org.af بريښنا پاڼه www.misfa.org.af

منځنۍ کچې تنخوا ۱۰۰ امريکايي ډالره ده. برسيره پر دی، د نورو حمايوی کار کوونکو ګمارنه، زياتره د امنيت لپاره، د افغانستان په بې ثباته شرايطو کې د مخنيوی نه وړلګښت دی چې د نورو هيوادونو په پرتله د پرسونل لګښتونه ډيری لوړی کچې ته رسوي.

په اداری لګښتونو کې بيا د دفتر او د ترانسپورت باره په افغانستان کې د ګاونډيو هيوادونو په برتله ډيره لوړه ده. په داسی حال کې چې په بنګلاديش، هند او پاکستان کې د پورورکولو زياتره مديران له بايسايکل او موتور سايکل څخه کار اخلي: او د هغوی افغانی سارې اړول کيږی چې له موټرو څخه کار واخلی، چې د سختی اراضی، هوا او امنيتی شرايطو له کبله ډير ګران دی.




## څلورم شاخص: د سرمايې د لاسته راوړنې پر وړاندی د کار او فعاليت د لګښتونو نسبت

لاندنی ګراف د کار او فعاليت د لګښت د نسبت او د سرمايې د لاسته راوړنې (د نه ورکړشويو پورونو څخه تر لاسه شوی ګټې) تر منځ اړيکې څرګندوی. د افغانستان او پاکستان څخه پرته، په ټولو نورو هيوادونو/سيمو کې د سر مايې لاسته راوړنې د کار او فعاليت د لګښتونو په پرتله لوړی دي، او څرګندوی چې په نورو سيمو کې د کوچنيو پورونو ميشت نهادونه خپله ګټه محاسبه کوي. همدارنګه دغه مساله څرګندوی چې په افغانستان کې د کوچنيو پورونو نهادونه په ټوليزه توګه نشی توانيدلی تر څو د هغو ګټو څخه چې په ګاکونو باندی تحميلوی خپل د کار او فعاليت لګښتونه پوره کړي.

د افغانستان د کوچنيو پورونو د نهادونو لاسته راوړنه په سيمه کې د کوچنيو پورونو د نورو نهادونو څخه لوړه نده، سره لدی چې د کار او فعاليت لګښتونه يې ډير لوړ دی: داسی څرګنديږی چې په افغانستان کې د لاسته راوړنو کچه د کار او فعاليت له اصلی لګښت څخه ټيټه ده.

---

مسفا د محدودو مسؤليتونو يو شرکت دی چې په بشپړه توګه د افغانستان د ماليې وزارت پوری تړلی دي. مسفا په ۲۰۰۳ کال کې د يو چينل په بڼه رامنځته شو تر څو د افغانستان حکومت او نړيواله بسپنه ورکوونکې د کوچنيو پورونو سکتور د پياوړتيا لپاره او همدارنګه په کوچنيو او منځنيو تشبثاتو د ټيټو کچو پور ورکولو کې خپل تخنيکې مرستی او مالی وجوه، وړاندی کړي.

MISFA
Microfinance Investment Support Facility for Afghanistan

MISFA Ltd
House #195, District 10
Esmat Muslim St., Shahr-e-Naw
Kabul, AFGHANISTAN

برېښنا لیک: info@misfa.org.af برېښنا پاڼه www.misfa.org.af




## پنځم شاخص: د کار او فعالیت ځان بسی

د کار او فعالیت ځان بسی، د کوچنیو پورونو دیو نهاد د کار او فعالیت څخه د خپلو د فعالیتی او مالی لږښتونو د پوره کولو توان محاسبه کوي. څنګه چې پورتنی ګراف ښکاروي، که څه هم چې د افغانستان د کوچنیو پورونو سکتورلا تر اوسه هم د منلو وړ حد ته (سل په سلو ځان بسی ته) ندی رسیدلي، خو ښکاری چې ښه پرمختګ یې کړی دي. باید په یاد وساتو چې د افغانستان د کوچنیو پورونو سکتور لا ډیر نوی دي، چې د کوچنیو پورونو لومړې پورونه یې په ۲۰۰۳ کال کې ورکړل، چې یوازی دری کالی مخکې وو.

بیا هم، د ناامن چاپیریال، د کارکوونکو ټیټو ظرفیتونو، د فعالیتونو لوړو لږښتونو، او یو ویجاړ مالی سیستم سره سره کومه لاره چې دغه سکتور د فعالیتونو د ثبات په برخه کې وهلی د پام وړ ده. د نورو هیوادونو بریالیتوبونه باید دی حقیقت سره په پام کې ونیول شی چې هغوی له کوچنیو پورونو سره د پام وړ اوږد تاریخ لري (لکه بنګلادیش چې ۲۵ کاله تجربه لري) او همدارنګه هغوی له دغه شان شرایطو او ګواښونو سره چې د افغانستان د کوچنیو پورونو نهادونه هر ورځ ورسره مخ دی، مخ شوی نه وو.




---

مسفا د محدودو مسؤلیتونو یو شرکت دی چې په بشپړه توګه د افغانستان د مالیې وزارت پورې تړلی دي. مسفا په ۲۰۰۳ کال کې د یو چینل په بڼه رامنځته شو تر څو د افغانستان حکومت او نړیواله بسپنه ورکوونکې د کوچنیو پورونو سکتور د پیاوړتیا لپاره او همدارنګه په کوچنیو او منځنیو تشبثاتو د ټیټو کچو پور ورکولو کې خپل تخنیکې مرستی او مالی وجوه، وړاندی کړي.